# نوښتګر اوسئ، اصلي اوسئ، او پیژندګلوي ترلاسه کړئ!

## "د ښځو لیدلوری" د عکسونو سیالي ۲۰۲۰ | د هغې له سترګو

د کوید ۱۹ له امله، د قرنطین او ډیریدونکي کورني تریخوالي پرمهال، یوه افغانه ښځه څه ډول غواړي خپل ځان ووینې؟ هغه څه ډول غواړي ولیدل شي؟ او هغه غواړي چې څه ډول چلند ورسره وشيي؟

ملګري ملتونه په افغانستان کې د " **د ښځو لیدلوری** " یا "**د هغې له سترګو** " تر نوم لاندې د ۲۰۲۰ کال د انځورونو سیالۍ اعلانوي. ترڅو پدې ناوړه ننګونکي وخت کې د میرمنو او نجونو مثبتې، متحرکې او رنګینې کیسې بیان کړي. عکسونه ممکن د کورنۍ او کورنی ژوند، کار ځای، ملګرتیاوې، تفریح او یا نورې بیلابیلې صحنې وښيي. شاید دا یې بیلګې وی:

- یوه ښځینه ډاکټره یا نرسه چې د کوید ۱۹ ناروغان تداوي کوي؛
- میرمنې چې د وبا پر مهال د خپلې سالمې روغتیا لپاره سپورت کوي یا له کور څخه بهر نورو چارو کې ونډه اخلي؛
- یوه ښځه د خپل میړه سره پخلی کوي؛
- یوه ځوانه نجلۍ د قرنطین یا جلا والي پر مهال د کتاب له لارې خپل معلومات پراخوي؛

... او ډیری نور مثالونه.

سیالي د افغان نارینه او ښځینه عکس اخیستونکو لپاره پرانستې ده. ګټونکی عکاس به د ملګرو ملتونو د ټولنیزو رسنیو او چینلونو له لارې نندارې ته وړاندې شي او د چاپي موادو په ګډون به یې عکسونه په ټولو آنلاین شبکو کې خپاره شي.
ګټونکي ته به د ډسمبر په پیل کې په انفرادي ډول خبر ورکړل شي. ملګري ملتونه به دوی د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر په پیل کې د UNDP ویب پاڼه اعلان کړي

---

# د ګډون څرنګوالی

خپل عکس (عکسونه) د نومبر له ۵ مې تر د نومبر ۲۵ مونږ ته په دې پته راولیږئ: communications.af@undp.org
چې کله داخلیږئ، لاندې معلومات ورکړئ:

- د عکاس نوم او تخلص
- د تلیفون شمیره

- د تلیفون بدیل شمیره
- ولایت
- دنده
- کیپشن/ کیسه
- د تصویر اخیستنې ځای او نیټه
- د پاسپورټ یا پیژندپاڼي کاپي
- د ورسپارنې د مقرراتو منل او تاییدول
- په عکس کې د ښودل شوو ماشومانو او لویانو رضایت او مسؤلیت اخیستنه به د عکاس په غاړه وي، ځکه عکس په عامه توګه استفاده کېږی.

---

# جایزې

قضاوت کونکي به دنوښتګرې عکاسۍ او د موضوع د ښه تصویرولو پراساس د سیالۍ درې بهترین ګټونکي او لس غوره ګټونکي غوره کوي.

- لومړی مقام ګټونکي ته ۵۰۰ ډالر
- دویم مقام ګټونکي ته ۳۰۰ ډالره
- دریم مقام ګټونکي ته ۲۰۰ ډالره
- ۱۰ اوچت مقام ګټونکو تصویرونو ته ۱۰۰ ډالره

نغدي جایزه به د انعامونو د ورکړې لپاره د نیول شویو مراسمو په ترځ کې د ۲۰۲۰ کال په ډسمبر کې ورکول شي.

## د تصویر معیارونه

تصویر

- باید په ۲۰۲۰ کال کې اخیستل شوی وي.
- په پخوانیو نشریو، تبلیغاتي موادو او ویبپاڼو کې نه وي خپور شوی.
- له ۱۶۰۰x ۱۲۰۰ پیکسل څخه باید کوچنی نه وي او په JPEG فارمت یا بڼه کې وي.
- له ۵۰ تر ۲۰۰ کلیمو پورې کپشن/لیکلې کیسه باید ولري.

- په کپشن کې باید د څه، چیرې، کله، څرنګه او ولې پوښتنو ته ځواب ورکړل شوی وي.
- کپشن کیدی شي په انګلیسي، دري او یا پښتو وي.
- تصویر که په تور او سپین او یا رنګه رنګ وي منل کیږي.
- لاس وهل شوي تصویرونه نه منل کیږي.

# د سیالۍ اصول

تصویرونه باید په  لوړه کچه رونټیا، نوښت او اصلیت ته په پام سره اړوند موضوع د "ښځو لید لوری" په ګوته یا انځور کړي.

د تصویرونو سیالۍ ته د نوم لیکنې په ورسپارلو سره تصویراخیستونکی باید له دغو مقرراتو سره موافق وي:

- د افغانستان تابعیت لرونکی نارینه او ښځینه چې عمر یې له ۱۶ کلونو لوړ وي درخواست کولی شي. ښځینه عکاسانې هڅول کیږي چې درخواست وکړي.
- عکاسان کولی شي د داخلې لپاره خپل ۵ تصویرونه وسپاري.
- هرتصویر باید ګواښونکي، درواغ، ګمراه کونکی، ناوړه، ځورونکی، بدنامونکی، توهینونکی، سپکونکي، مبتذل او رسواکونکي محتوا ونلري.
- عکاس باید د استول شوي تصویر د ټولو حقونو مالک وي او  دوی باید په عکسونو کې د ښوول شویو ماشومانو او لویانو د رضایت لرلو بشپړ مسوولیت ولري.
- عکاس د استول شوي محتوا د دقت - تصویر او ورسره  مل کپشن (عنوان)/ کیسې بشپړ مسوولیت لري.
- کپشن یاعنوان/کیسه باید د عکاس لخوا لیکل شوې او ریښتینې وي، نه افسانوي، او هیڅ ډول کاپي/ بیا تولید باید نه وي.
- په افغانستان کې به د ملګرو ملتونو دفتر به په بشپړ ډول ددې حق ولري چې استول شوي تصویرونه په فلیکر کې د البوم په ډول او د غیر سوداګریزو موخو لپاره د عکاس له نوم سره یو ځای خپاره کړي.
- په افغانستان کې ملګري ملتونه د هر استول شوي تصویر په اړه د کاپي حق بشپړ مالکیت ساتي.

**د هرډول پوښتنې لپاره له موږ سره په تماس کې شئ:**
Communications.af@undp.org